مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالباري جهـاني

۲۰۲۱/۰۱/۰۷

# د علامه اقبال څلوريځې

## یولسمه برخه

| | |
|---|---|
| به بند صوفي و ملا اسيری | يا ملا او يا صوفي دي در ترلي پښي لاسونه |
| حيات از حکمت قرآن نگيری | د قرآن له حکمتونو د ژوند نه اخلې پندونه |
| به آياتش ترا کاری جزين نيست | ستا له ټولو آياتونو يو يسين ځانته په کار دی |
| که از ياسين او آسان بميری | چې آسان دي ځکندن کړي او در ختم کړي دردونه |
| **** | **** |
| شتر را بچهء او گفت در دشت | جونګي، اوښ ته ويل پلاره شاوخوا دښتې ښکاريږي |
| نمی بينم خدای چارسورا | هر څه سترګې غړومه خالق نه را معلوميږي |
| پدر گفت ای پسر چون پای بلغزد | پلار يې وويل زويکه چې دي کله پښه ښوييږي |
| شتر هم خويش را بيند هم اورا | هم به ځان ويني په سترګو هم دي خدای په سترګه کيږي |
| **** | **** |
| مسلمانان مرا حرف جليل است | يو کلام لرم په زړه کې د نړۍ مسلمانانو |
| که روشنتر ز جان جبرييل است | چې تر روح د جبريل هم لا روښانه دی يارانو |
| نهانش دارم از آذر نهادان | پټ يې ورم له بت پرستو د آذر له پيروانو |
| که اين سِری زا اسرار خليل است | چې يو سِر دی له اسرارو د خليل او د دوستانو |
| **** | **** |
| زمن بر صوفی و ملا سلام است | هم صوفي او هم ملا ته سلامونه مې لېږلي |
| که پيغام خدا گفتند مارا | چې د حق يې پيغامونه زموږ تر غوږه رسولي |
| ولی تاءويل آن به حيرت انداخت | خو تاءويل يې داسې کړی د قرآن د آيتونو |
| خدا و جبرئيل و مصطفی را | خدای، رسول او جبريل يې په حيرت کې اچولي |



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ